# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



انجنیر داؤد اڅک

۲۰ جنوری ۲۰۲۴

## اوغان/ افغان او پښتون

پدې وروستیو وختو کي د اوغان/ افغان او پښتون په هکله هم د پښتنو په منځ کي د اندونو بېلوالی ډېر سویدی او هم د پښتنو او غیر پښتني قومونو تر منځ حساسیتونه او د نظر اختلافات را پارېدلي دي. یعني ځیني تاریخ لیکونکي اوغان، افغان او پښتون سره جلا کوي خو ځیني ئې یو بولي، دغه یوالي ځیني غیر پښتانه وروڼه دومره خښمولي دي ان چي خپل ځانونه له افغانیته باسي او وایي چي موږ افغانان نه یوو. پدې خاطر چي دغه سوءتفاهم له منځه ولاړ سي او د افغانستان د وروڼو قومونو تر منځ فولادي ملي وحدت ټینګ پاته سي نو زه اړ سوم چي تر خپله وسه پر دغه موضوع باندي څه نا څه داسي رڼا واچوم:

کله چي تاریخي مسیر د ابراهیمي ادیانو له مسیر څخه د لرغوني تاریخ په لور واوښت نو په ملتونو کي قومي انګېزې او علاقې را وپارېدې، څو د خپل قوم او ملت د پېژندني په هکله ئې ژوري څېړني او پلټني پیل کړې. معنا دا چي تر اتلسمي پیړۍ پوري د خراسان او سیمي په تاریخي مدارکو کي د ابراهیمي ادیانو تاریخ غښتلی او تاثیر ناکه وو. یعني په تاریخي اثارو کي د قرآن شریف، تورات، انجیل، ذبور، د پیغمبرانو احادیث، اقوال او روایاتو مرکزي رول لوباوه چي غربي تاریخ پوهانو هم پخپلو لیکنو کي له همدغه اثارو څخه په لویه کچه ګټه اخیستل، په تېره بیا د هغه اثارو څخه چي د افغانستان او سیمي په هکله لیکل سوي ول. خو کله چي د اولسمي پېړۍ په پای کي انګرېزي استعمار هند ته د شرقي تجارتي کمپنۍ په نامه داخل سو نو د سیمي پر امنیتي، سیاسي، اقتصادي، ښکارهنګي (کلتوري) او ټولنیزو شرایطو سربېره ئې پر تاریخي روند باندي هم نېغ په نېغه اغېزه وکړل، یعني تاریخي روایتونو او تاریخي لیکنو بلکل تغییر وکړ.

پدې معنا چي: د انبیاوو تاریخ د تاریخ لیکني څخه لیري سو او ځای ئې د غیر ابراهیمي ادیانو هغه پېښو، کیسو او افسانو ونیوی چي نن ورځ لرغونی تاریخ نومیږي. په لرغوني تاریخ کي انسانان پر دوو غټو ډلو (اریایي او غیر اریائي) باندي و ویشل سول. اریائیان چا نه پېژندل او تر نن ورځي پوري هم په دقیق ډول نه دي پېژندل سوي، خو کله چي د اتلسمي پېړۍ په پای کي اریایي په غیر مستند ډول د اصیل او نجیب په معنا مرکزي حیثیت پیدا کړ نو تاریخ لیکونکي هم علاقه مند سول چي خپله سیمه، خپل قوم او خپله ژبه اریائي ثابت کړي. چي دا کار په انسانانو کي د ویش او تعصب غښتلی لامل سو. د لرغوني تاریخ د لیکوالانو له مخکښانو څخه یو هم انګرېز جان مالکوم (۱۷۶۹-

۱۸۳۳م) شرق پيژندونکی، سياست پوه او تاريخ ليکونکی دی چي د شرقي هند په کمپنی کي افسر وو او ايران ته ئي څو ځله ديپلماتيک سفرونه هم کړيدي.

جان مالکوم چي په فارسي ژبه پوهيدئ پر نورو کتابو سربيره ئي د (پارس تاريخ) په نامه هم يو کتاب ليکلی دی او په دغه کتاب کي ئي د ايران او سيمي تاريخ په اريائيانو او د اريائيانو په مهاجرت پوري تړلی دی چي دغه سلسله تر نن ورځي روانه ده. همدا لامل دی چي تاريخ ليکونکو د ريګويدا، اويستا، بندهشن او دينکرت په شان تاريخي کتابو ته مخه کړل او د لرغوني تاريخ مينوال پداسي حال کي ډېر سول چي په سيمه کي تر اريائيانو مخکي د سيند، منديګک، ارته، سومر... په شان پراخ او ښکلي تمدنونه موجود ول چي ډېر ئي د اريائيانو لخوا ړنګ سول لکه د سيند تمدن...، يعني اريائيان چي نن ورځ خلګ په تېره بيا افغانان په نازېږي هيڅ داسي څه نه لري چي تر غيري اريايي خلګو دي ښاغلي وبلل سي. خير اوس به راسو خپل اصلي باندار (اوغان/ افغان او پښتون) ته.

## ايا اوغان/ افغان يو او د پښتون په معنا دی؟

دې سوال هم حساسيتونه را پارولي دي او هم ئي د کورني او بهرني تاريخ پوهانو اندونه سره وېشلي دي. د نعمت الله هروي، محمد حيات خان، راورټي انګليسي، سراولف کيرو او بيليو انګليسي په شان تاريخ ليکونکي پښتانه افغانان بولي او افغانان بيا د کيس (عبدالرشيد) اولاده ګڼي چي د غور څخه مکي شريفي ته ولاړئ او د حضرت محمد (ص) سره ئي وليدل...، کيس بيا د افغانه ټبر بولي چی د ارميا زوی او طالوت لمسئ دی. خو دغه نظريه د البيروني، کهزاد، العتبي، برنارد ډورن او مالکوم په شان کورنيو او بهرنيو تاريخ ليکونکو رد کړېده. زما (ليکوال) په اند هم د عبدالرشيد نظريه يوه افسانه ده، ځکه چي اسلام د حضرت محمد (ص) په وخت کی زموږ سيمي ته نه بلکه د (خلفای راشدين) په دوره کي رارسېدلی دی. د يوه روايت له مخي د حضرت عمر بن خطاب په وخت کي د احنف بن قيس په مشري په کال ۶۴۳ ميلادي کي د نيشاپور او هرات په نيولو سره ساساني سلسله پای ته ورسېدل او سيمه عربي مسلمانانو ونيول. بل روايت وايي چي په کال ۶۵۰ ميلادي د عثمان بن عفان په خلافت کي د ساسانيانو امپراتوري را نسکوره سوه چي اخيري پاچا ئي (دريم يزدګرد) وو. پداسي حال کي چي حضرت محمد (ص) د يولسم هجری کال د ربيع الاول په دولسمه د ۶۳ کالو په عمر رحلت وکړ چي د ۶۳۲ ميلادي سره برابره ده. همداسي د کيس د روايت تصديق يا ذکر نه د (شرح صحابه) او نه د (اسمآ رجال) په کتابو کي سويدی، نه هم په کوم اسلامی تاريخ، اسلامی معتبر اثر او نه هم په کوم نبوي حديث کي د بنی اسرايلو سره د پښتنو نسلي تړاو ياد سويدی. که څه هم چي د قرآن شريف په سورة البقره ۲۴۷ کي د طالوت ذکر سويدی خو د پښتنو سره په تړاو ئي هيڅ نسته. بل دا چي که پښتانه اسرائيل وي بيا نو د افغان تاريخ ليکونکي (ښاغلي سعدالله جان برق) په خبره دوی ولي خپله پلرنی او مورنی عبري ژبه هېره کړه او پښتو ژبي سول. يا که اسرائيل د ژبپوهني پر بنسټ په نوي چاپېريال کي اقليت ول او د اکثريت ژبه پر تحميل سوې وي بيا نو د افغانانو په اوسنی سيمه کي دغه اکثريت خلګ څوک ول؟

افغان تاريخ ليکونکی ښاغلی حميدالله روغ د خپل کتاب (ما «کی» هستيم؟) په ۱۹ او ۲۱ مخونو کي اوغان او افغان سره جلا کوي او ليکي چي افغان د پښتون معادل ندی، افغان د يوې جغرافيي نوم دی، افغان د يوه ملت نوم دی چي د افغانستان ټول قومونه په غېږ کی نيسي. خو د اوغان په هکله په خپله يوه ليکنه (اوغان معادل افغان نيست و اوغانستان معادل افغانستان نيست) کي داسي ليکي:(پدې اخيرو کلونو کي ځينو ښاغلو ليکلي دي چي اوغانان اصلاً په مکران «د کرمان او اصفهان منځ کي» اوسېدل او استوګن ځای ئي اوغانستان نومېده، څو همدغه اوغانان زموږ سيمي ته راغلل او خپل نوم ئي زموږ پر وطن کښېښاوه. ښاغلی روغ دغه روايت ردوي او وايي چي اوغان د چنګېز

یو قوماندان وو او د خپل لښکر سره په مکران کي اوسېدۍ څو ډله ئي د سیمیزو خلکو لخوا اوغانان او ځای ئي اوغانستان وبلل سو چي د افغانانو او افغانستان معادل ندي. که څه هم چی ښاغلی روغ پدې هکله ځانګړی مآخذ نه وړاندي کوي خو دغه خبره د مرحوم حبیب الله تږي په قول په لږ توپیر سره پولنډي تاریخ لیکونکي (کروسنسکي) د خپل کتاب (د یوه سیاح خاطرات) په ۲۱ او ۲۳ مخونو کی داسي کړېده:(کله چي ګوډ تېمور ارمنستان او نور ګاونډي ملکونه ونیول نو دغه خلک «اوغانان» يې یو لیري ملک ته چي د پارس او هند ترمنځ پروت دی ولېږل...). د کروسنسکي منظور له دغه ملک څخه اوسنئ کندهار دی. خو مرحوم تږی د کروسنسکي سره موافق ندی.

افغان تاریخ لیکونکي کاندید اکادمسن محمد عظم سیستاني د (ایا اوغان معادل افغان نیست؟) په عنوان لیکنه کړېده او په ټینګار سره وايي چي:(اوغان او افغان یو دی او د پښتون په معنا دی. ښاغلی سیستاني دلیل راوړي چی غیر پښتني قومونه پښتنو ته اوغان او اوغو وايي). رشتیا هم ځني قومونه لکه تاجیک، هزاره، اوزبیک... پښتنو ته اوغان/ اوغو وايي او په نوموړو ورونو قومونو کي یوه اصطلاح سته چي یو د بل په مقابل کي ئي داسي کاروي: قهر اوغان رحم تاجیک/ قهر اوغان رحم هزاره/ قهر اوغان رحم اوزبیک. همداسي د ۱۳۷۱ هش وروسته کله چي تنظیمي جنګونه پیل سول نو په یوه مرحله کي حزب وحدت د عبدالعلي مزاري په مشري او حزب اسلامي د ګلبدین حکمت یار په مشري د شورای نظار په مقابل کي چي احمدشاه مسعود ئي مشري کول ګډه جبهه جوړه کړل او ډېر خونړي جنګونه ئي وکړل. پدغه وختو کي به هزاره ورونو ویل چي:(ازره و اوغو برارند – دشمن شورای نظارند).

ګرانو لوستونکو مخکي لدې چي زه (لیکوال) د افغان په هکله خپله شتمني ستاسو سره شریکه کړم بده به نه وي چي پدې هکله د څو نورو کورني او بهرني تاریخ لیکونکو له اندونو سره هم اشنا سو.

ابن بطوطه مراکیشئ چي د ۱۳۴۰ میلادی په شا و خوا کي ئي افغانستان ته سفر کړیدی د خپل کتاب (د ابن بطوطه سفر نامه) په ۴۰۶ مخ کي داسي لیکي:(وروسته مي کابل ته سفر وکړ چي د افغانانو په نامه د عجمو طائیفي ژوند پکښي کوي. کابل له پخوا څخه د افغاني شاهانو مرکز وو، افغانان په غرونو کي کلک مورچلونه لري او غښتلي خلک دي...).

البیروني د خپلي تحقیقي رسالي «التفهیم» د دریم اقلیم په بیان کي او د «الصیده» کتاب د زیتون د وني په بیان کي د هندوکش غرونه د چین څخه تر زابل او بُست پوري د افغانانو غرونه بللي دي.

امریکايي تاریخ لیکونکي میرمن (ماري لویس کلیفورد) پخپل کتاب (د افغانستان هیواد او خلک ئي) چي مرتضی اسعدي ترجمه کړیدی د عربي مؤرخینو له روایاتو څخه نتیجه اخلي او په ۱۴۱ مخ کي لیکي چي:(عربو د اوه ګانه «افغان» نوم د چټکو آس سپرو په معنا پر بیلو قومو «پښتون، تاجیک، ازبیک...» باندي اطلاق کړیدی).

د نړی مشهور مؤرخین او ژبپوهان لکه: کریستن لاسن ناروېجئ، ایریکلوس او جان مارتین فرانسویان، مک کرندل او الکزاندر انګریزان بیا پدې باور ول چي اپګان (افغان) د باختر او کامبوچه هغه آس سپرو ته ویل کېدل چي اویستايي دین ئي درلود او د عربو په مقابل کي ئي مقاوت کاوه. دغه قول استاذ حمید نوید هم په خپل کتاب (د افغان کلمي ریښه موندنه د تاریخي اسنادو په رڼا کي) تائیدوي او د افغان په اړه د هندي محقق (اګره وال) قول چی سانسګریت ئي مطالعه کړیدی داسي را نقلوي:

(د افغان کلمه د کوم خاص قوم یا ټبر په معنا نده او نه د کوم ځانګړي قوم معرفت کوي). استاذ نوید مخته ځي او وايي چي:(ابګان، اپګان په عربي لهجه کي افغان سویدی خو عراقي تاریخپوه «ابن اثیر» د افغان کلمه پخپل پخواني شکل ابګان سره لیکلي ده).

علامه عبدالحی حبیبي هم د خپلي مقالي (افغان او افغانستان) په شپاړسم مخ کي چی ښاغلي حبیب الله رفیع ژباړلي ده کاږي چي :(ابن اثیر په الکامل کي دوی په پخوانی املا ابغان باندي لیکلي دي).

سیف هروي هم په خپل کتاب (تاریخ نامه هرات) کي د اتک پر غاړو څو ځله د افغانستان ذکر کړیدی او افغان، اوغان ئي یو او پښتون بللی دی. سراولف کیرو هم د خپل کتاب (پټانز) د پښتو ژباړي په ۱۳۳مخ کي اپګان، ابغان او افغان یو او پښتون بولي.

افغان شاعر او لیکوال (عبدالباري جهاني) هم د اوغان په عنوان مستنده لیکنه کړېده چي اوغان، افغان او پښتون یو بولي خو اوغان بیا پر مغولو او پښتنو باندي داسي وېشي:(هغه مغول اوغانان چي د آل مظفر د قدرت په وخت کی په کرمان او د هغه ولایت په شاوخوا سیمو کی ژوند کوي... له هغو افغانانو یا پښتنو سره چی د سلیمان غرو په لمنو کی ژوند کوي... ډېر توپیر لري).

ښېله شکه چي د زرهاوو کالو مخکي د پېښنو سمه او واقیعي بڼه معلومول مشکله حتا ناممکنه ده او تاسو ولیدل یا مو لیدلي دي چي د اوغان، ابګان، اپګان، اسوکان، اپوګان، او- پو-کین... په هکله ډېرو کورنیو او بهرنیو تاریخ لیکونکو بېل بېل نظریات وړاندي کړیدي. خو ما اځک هواباز چي تر کمه ځایه پلټنه کړېده لاندي نظریه په نسبي ډول هم دقیقه او مستنده برېښي او هم په اسانی سره نتیجه ځني اخیستل کیدای سي او هغه دا چي:

اوغان/ اوغو په بیلو ژبو کي بېل بېل معنا سویدی، د (ابادیس ډکشنري) په حواله په ترکي او نورو ژبو کي د قهرمان، قهرمان زوی، رب، پیداکونکی، جنګره... په مفهوم معنا سویدی. خو زما (لیکوال) د پلټني پر بنسټ اوغان/ اوغو چي اویستایي شکل ئي (اوه) دی د خوش خویه، خوش اخلاقه او مهربان په معنا دی. المانئ ژبپوه او تاریخپوه (فردیناند یوستي) هم زما سره همږغی دی او په خپل کتاب (ایراني نومونه) کي اوه د مهربان او خوش خولقه په معنا اویستایي کلمه بولي. ارمني تاریخپوه موسی کاغان هم پخپل کتاب (د اوغان تاریخ) کی په خوش خویه، نېک او مهربان معنا کړیدی. علامه حبیبي د همدغه مقالي (افغان او افغانستان) په اتم مخ کي داسي لیکي:(اوه، اوه ګان په لرغونو اریایي روایاتو او شاهنامو کي دؤد وو او که د یوستي په اند ئي ریښه اویستایي وبولو نو معنا به ئي مهربان او لاس نیونکی وي، که بیا وروسته د یوه قوم یا ټولني په معنا اوښتی وي لیري نده. دغه روایت د شاهنامي فرهنګ «ښکارهنګ» په دوولسم مخ کي هم تائېد سویدی).

ځینو تاریخ لیکونکو اوغان د یافث کړوسئ بللی دی خو د اسنادو او شواهدو څخه پښتون ثابتېږي. اوغان ۲۲۰۰ کاله مخکي پر پراخه سیمه باندي حاکم وو چی وروسته د ده په نامه ونومول سوه، دغه سیمه چي د ققفاز غرو په لمنو کي پرته ده په بیلو پړاوو او حکومتو کي ئي جغرافیایي بدلونونه موندلي دي، یعني بیلي سیمي د اوغان په نامه یادي سویدي. تر اسلام مخکي ټول ختیځ ققفاز د اوغان په نوم یادیدی خو په اسلامي عصر کي د «کُرا» او «ارئس» سیندونو تر منځ سیمو ته اوغان/ افغان ویل کېدل.

ګرجئ ژبپوه (وارتان ګریګوریان) د ارمني تاریخپوه (ګوریون) سره موافق دی او په خپل کتاب (د معصر اوغانستان ظهور) کي د موضوع په تائېد لیکي چي:(موږ نه باید په دغه ږغیږ ورته والي خطاوزو ځکه چي د اوغان، ابګان او اپګان کلمي د هغه خلګو لپاره کاریدلي چي په اذربائیجان او شا خوا سیمو کي اوسېدل، دغه کلمي په پنځمه میلادي پیړۍ کي د ارمنستان په ادبیاتو کي د همدغو خلګو په معنا کارول سویدي).

داکتر بیلیو هم افغان د اوغان اوسنئ شکل بولی او زیاتوي:(مخکي لدې چی عرب افغانستان ته راسي د ارمنستان د غرنیو اوغانانو سره اشنا ول). جوانشېر قره باغئ چي د (قره باغ تاریخ) ئي په ۱۸۴۷ میلادي کي لیکلی دی کاږي چي:(تفلیس، ګنجه، ایروان، نخجوان، ارد وباد، بردع او بیلقان ښارونه ټول د اوغان په نامه یادېدل او زیاتوي چي د

اوغان په سیمو کي ۲۶ قومونو ژوند کاوه. د ارمنستان دایرة المعارف تائېدوي چي لاندي سیمي هم د اوغان سیمي وې لکه: یغني «خني»، کامبجان، بگ، شکي، گتارو، خوغمار، گغام، حمباس، قاق دښت او هدگري میدان. ارمنئ تاریخ لیکونکی (موسیز داسخور) په خپل کتاب (د اوغانستان تاریخ) کي لیکي چي اوغانان د داغستان، اذربائیجان او شرقي ارمنیا سیمي وې چي پلازمېنه ئې پرتاو وو.

پوهاند حسن کاکړ هم د خپل کتاب (پښتون، افغان، افغانستان) په ۱۲۱ مخ کي د چینایي تاریخ پوه (هیون تسانگ) قول تائېدوي چي اپو کین (افغان) د یوې سیمي نوم وو او زیاتوي چي انگرېزي جورج کننگم هم په خپل کتاب (د هندوستان پخوانی جغرافیه) کي دغه روایت تائېد کړیدی.

افغانه تاریخ پوه (صفیه حلیم) هم د اوپکیان په عنوان لیکنه کړېده او داسي کاږي:(هیون تسانگ د بامیان او غزني نه بنو ته په لاره کي یوه سیمه د «اوپکیان» په نوم یادوي چي بریتانوي لرغونپوه «جورج کننگم» دغه «اوپکیان» د افغان چنایي بڼه بولي. مېرمن حلیم زیاتوي چي اوپکیان وروسته د عربانو لخوا افغان سو).

علامه احمد علی کهزاد هم په خپل کتاب (افغانستان په شاهنانه کي) افغان د اس ځای/ د اس سپرو ځای معنا کړیدی.

د (اران، اذربائیجان جنایات او پراختیا غوښتنه) په کتاب کي چي ارمني الاصل ایراني (ادیک باغدا ساریان) تالیف کړیدی داسي راغلي دي:(کله چي د میلاد نه دوې پیړئ مخکي د هلنیستي لومړئ اشتراکي ټولنه پای ته ورسېده سمدستي لومړئ طبقاتي ټولنه «غلامي او باداري ټولنه» رامنځته سول څو وروسته ۲۶ قومه په تفاهم او یوالي سره د اوغان په مشري د «اوغان شاهیک» تر واحد حاکمیت لاندي سره یو ځای سول، د پاچاهي اعلان ئې وکړ او سیمي ئې د «اوغان» په نامه ونومول سوې. د اوغان شاهیک پوځ ۶۲۰۰۰ پیاده او ۲۲۰۰۰ سپاره لښکر درلودل. دا چي د ارمنستان سره ئې ښه مناسبات لرل نو د لښکرو شکل ئې هم د ارمنستان په ډول وو او په ښکارهنگي «کلتوري» لحاظ هم د ارمنیانو تر تاثیر لاندي ول. اوغانان جنگجویه خلک ول ان چي کله کله به په پردیو لښکرو کي هم جنگېدل. اوغانانو د اور، لمر او بُت پرستیش کاوه خو په ۳۷۰ میلادي کي د اوغان پاچا «اورنایر» Urnayar مسیحیت قبول کئ.

کله چي په کال ۳۸۷ میلادي کي لوی ارمنستان د روم او ساسانیانو تر منځ و ویشل سو نو د شرقي ارمنستان ارتساخ Artsakh او اوتیک Utik ښارونه په اوغان پوري وتړل سول څو چي د نومړو ښارو له یو ځای کیدو وروسته د اوغان نوم جغرافیایي او سیاسي اهمیت پیدا کړ. یونانئ تاریخ پوه «استرابون» هم په خپل کتاب «جغرافیه» کي ارتساخ چي د کُرا سیند راسته خوا ته پروت دی د ارخیستینه Orkhistene په نامه د ستر هایک «ستر ارمنستان» یو ښار بللی دی او زیاتوي چي د چټکو اس سپرو ځای دی او په همدې خاطر ئې شهرت درلود.

باغدا ساریان زیاتوي چي د اوغان دغه جغرافیایي مؤقیعت د پایلوچو تازیانو تر وخته ژوندئ وو خو کله چي لومړئ تازیانو او بیا مهرانیانو سیمه ونیول نو د نهمي میلادي پیړئ په پای کي اوغان د ارمنستان برخه وگرځېدل. په نوموړي کتاب کي دا هم راغلي دي چي تر ۴۶۲ میلادي پوري مخکي تر پرتاو د کاپاغک ښار د اوغان پلازمېنه وه). پاته دي نه وي چي په کندهار کي د کاپاغک په تحریف سوي شکل د کاغانک په نامه سیمه لرو.

ارمنئ تاریخ پوه (موسیز) وایي چي ارمني ژبپوه (میزوپ مشتوس) وکړای سول چي په پنځمه میلادي پېړئ کي د ارمني او گرجي الفبي تر څنگ افغاني الفبې هم ولیکي، خو د افغاني تاریخي منابعو او اسنادو سره یو ځای افغاني لیکدود او الفبې هم له منځه تللي دي.

دا چي د پخوا څخه په منځنی اسیا او هم د ډیوریند پر بله غاړه د اوغان/ اوغانستان په نامه سیمي وې او د تاریخ پوهانو تر منځ ئې لانجه رامنځته کړېده لامل ئې د افغانانو کوچېدل دي د یوه ځای څخه بل ځای ته، لکه د پښتنو

(پکتیس) کوچېدل د بلخ څخه د افغانستان جنوب ته. مرحوم حسن کاکړ د همدغه موضوع په تائېد د خپل کتاب په ۱۲۷مخ کي د مرحوم کهزاد نقل قول کوي چي وايي:

(د پکتیانو یوه کوچنی څانګه د ارمنستان په غربي خوا کي استوګنه سول چي هلته هم د پکتیس په نامه او ځای ئي په پکتیکا سره مشهور سو). دا باید هېره نکړو چي په ارمنستان کي د پکتیکا په نامه سیمه تقریباً ۲۵۰۰ کاله مخکي یوناني تاریخپوه (هرودت) هم یاده کړې او انګرېز بیلیو تائېد کړېده.

**پایله دا چي**: ځیني بهرني مؤرخین افغانان د ګُرجیانو تېر بولي، عبدالرزاق سمرقندي او ډورن ترکان بللي دي، بیلیو او جورج کیپل ئي ارمنیان بولي، د میر خواند او محمود کُتبي په شان تاریخ پوهانو مغل بللي دي... . خو زه (لیکوال) د ټولو بناغلو مؤرخینو برعکس پدې باور یم چي ترکان، ارمنیان، ګرجیان، مغل... ټول اوغانان (افغانان) دي چي د اوغان په سیمه کي اوسېدلي دي او همدغه نوم ئي د ځان کړیدی، لکه اناتولي چي د ګوګ ترک په نامه ترکیه ونومول سوه، خو افغانان وروسته بېلو سیمو ته کوچېدلي او بېل بېل هیوادونه ئي جوړ کړیدي. د افغانانو، مغلو او ترکانو د امېزش ښه بېلګه د زابلستان په افغاني هپتالیانو (ابدالیانو) کي لېدلای سو. همداسې د ترکیې په اوسنی ولسي جرګه کي سینان اوغان وینو. انشاء الله که ژوند وو په خپل راتلونکي کتاب (د پښتنو او افغانانو لرغونی او مصور تاریخ) کی به د همدې دعوا پر ثبوت سربېره پښتانه او اریائیان هم په مفصل او مستند ډول در وپېژنم چي څه معنا، څوک دي او له کومه راغلي دي. لنډه دا چي پر پښتونو سربېره شغنانیان، تاجیک، هزاره، اوزبیک، بلوڅ، پشه يي، ایماق، ګوجر، قزلباش، پامیریان، نورستانیان، عرب، سادات، اهل هنود، براهویان... یعني ۲۶ قومه افغانان دي. سربېره پر دې د ۱۳۴۳ هش کال په اساسي قانون کي د افغانستان ټول وروڼه قومونه د یوه ملت (افغان) په نامه نومول سویدي. اوس لازمه ده چی ټول افغانان د ګران افغانستان د سمسورتیا او پرمختګ لپاره د میني په فضا کي بېله هر ډول تعصب څخه ګډ کار او د وروری ژوند وکړي.

**سرچیني:**


- افغان او افغانستان. علامه حبیبي. د حبیب الله رفیع ژباړه
- د پښتنو اصل او نسب. ډاکتر حبیب الله تږی
- پښتون، افغان، افغانستان. پوهاند محمد حسن کاکړ
- ما «کی» هستیم؟. سید حمیدالله روغ
- پټانز. سراولف کیرو. د شېرمحمد کریمي ژباړه.
- د افغانستان د قوم پېژندني مطالعه. ډاکتر بیلیو
- ایراني نومونه. فردیناند یوستي المانئ
- د قره باغ تاریخ. جوانشېر قره باغئ
- د اوغان تاریخ. موسی کاغان
- د اوغانستان تاریخ. موسیز داسخور
- ارمني دایرة المعارف
- فارسي دایرة المعارف
- ابادیس ډکشنري


په درنښت

۱۹ ــ ۱ ــ ۲۰۲۴